ليکونکی : پروفيسور جميس پترس .
سرچينه اونيټه : انفارميشن کليرنګ هوس (  ۲۰۱۱-۷-۲۳).
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»

---

# نانځکي دافغانستان ، عراق ، پاکستان اود متحده ايالاتو په اړودوړوکي

## puppets revolt:Afghanistan,Iraq,Pakistan and united states

امپرا توريي يا امپراتوري هيوادونه دخپلي سميزو انډيوالانو دملا تړ او دهغو دمقامونو په لوړولو سره کوم چي دامپرياليستي حاکمانو په دستور سره دندې ترسره کوي دخپل دتسلط لومه غوړوي.هغوی يعنی همدغه امپرياليستی کړيودخپل لاس پوڅواقتدار اوقدرت په ظاهری اوسمبوليک بڼي سره د مالي او نورورغنده مرستو سره حتا که چيری هغوی هم په دی پوه شی زياتوی ، هغوی يعنی دغه خاين او لاس ناستی نانځکی اکثراْ خپل اړيکی په لمړی سرکي د امپريا ليستي کړيوسره دغربی ژورنالستی حلقو پواسطه سره چی په ظاهر کی دغرب د چلند نيوکی کونکي هم دی تينګوي کوم چی د(مشتری ) په نوم سره ياديږی او دهمدی په اصطلاح امپرياليستي کاتبانوپه ذريعه سره خپل وفاداری هغو ته ښکاره کوي اوامپرياليستانو هم ترهغه پوری چی دغه محلی نانځکی خپل تړون او وفاداری هغو سره سا تی له هرپلوه دهغوسره سربيره پرما لی مرستي نور هر ډول کمکونه نه سپموی .

دغه نانځکی ياتر لاس نا ستی حاکمان دشلم پيړی په اوږدو کی ډير يوکرغيړن اوناولی تاريخ لری ، اوبيا په ځانګړی ډول وروسته له هغه چی د متحده ايالاتو سرد مدارانو په مرکزی امريکا اوپر کارايب باندی يرغل اوتيری وکړ: اوپه هغوملکونوکی ډيرخونړی اونجس ديکتاتوران په قدرت او په واک ورسول کوم چي هغوی يعني دغه ديکتاتوران

دامریکی د غټو شرکتونو او د بانکونو د ګټي د پالیسی سره په پلوي دامریکی د تسلط د پاره په منطقه کی له هیڅ ډول هڅه اواند څخه ونه سپمول لکه دوبالیر«Duvalier» ( پلار او ځوی ) په هایتی کی ، تروجیلو «Trujillo» ددومینیکان په جمهوریت کی،باتیستا«Batista» په کوبا کی ، سموزا «Somoza » (پلار اوځوی) یی په نیکاراګواکی هغه خاین دیکتا توران وه چی د امریکی د اقتصادې ګټی او دهغه دنظامې اودامپریالیستي لوړتیا غوښتنې په لټه کی وه اوله هیڅ ډول ظلم اونا روا څخه پر خپل خلکو ډډه ونکړل اوله غارت اوچپاول څخه لاس وانخیستل .

دغه امپریالیستی کړی خپل حاکمیت دخپل لاس پوڅو ګوډاګیانو پواسطه سره په دغه ملکونو کی په بیلا بیلو چلند او بڼو سره تر سره کړل ،مثلاْ د بریتانوی امپریالیستانو ځانګړی سیاست اوچلند داوه چی د قبیلو اودقومونو د مشرانو څخه په ملاتړ هغوی هڅول چی له خلکو څخه مالیه راټول کړی او د سلطنتی کورنیو سره په ملاتړ لکه په هندوستان کی چی هندی ساتونکی دخپل بریتانوی جنرالانوترڅارنی لاندی راوړل او پر هغوباندی خپل نظامی فعالیتونه ترسره کول. فرانسوی امپریالیستی کړی اوډلی په افریقا کی نخبګان او یو څه پوه خلک په فرانسوی کلتور سره لړول یعنی له هغو څخه په اصطلاح فرانکو من جوړول اوبیا په دی ډول دهغو په مرسته سره خپل ګټی تر لاسه کول اویا داچي دغه فرانسوی امپریالیستانو د اروپا په جګړو کی دافریقایانو څخه دتوپونو دخولی دغوښی په بڼه ګټی ترلاسه کول یاداچي( وروستي ) امپریالیست ملکونولکه جاپان چی خپل ګوډاګیان په منچوریاکی په واک ورسول اویاجرمنی سودخواره کوم چی په ویچی ( دپاریس په جنوب شرق کی ښار کوم چی دجرمنان تر تسلط لاندی پریوتی وه) اوپه ناروی کی خپل لاس پوڅی په واک کی ورسول چی دهغودګټی څخه استاذیتوب وکړی.

## له استعمار څخه وروسته دناسیونالستانواودنوی استعمار دنانځکوتسلط

ددوم نړیوال جګړی څخه وروسته ځواکمن آزادی بخښونکې اوضد استعماری جنبشونه داروپا اود امریکي د امپریالیستانو د حاکمیت ددوام دپاره په افریقا ،اسیا او دلاتینی امریکا په هیوادونو کی غټه ګواښ او چلنج وګرځید اوله بله خوا پانګوالانودخپل تسلط دبیارغونی د پاره په اروپا ، جاپان او دخپلو هیوادونو په د ننه کی داستعماری جګړی ددوام د مخالفینو دپراخ غورځنګ دراغوړید و له مخي دیو بی سارې او لوړ مالی لګښتونوسره مخامخ شول. متحده ایالات او اروپا دواړه د خپل اقتصادی برلاسی دساتلو دپاره دخپل سیاسیی شریکو انډیوالانو سره په ګډه درنګارنګو پلمو او جعل سره په دی نوې له استعماره څخه آزاد شوي هیوادونو کی د خپلو هم لاسوملګرو اونانځکو سره دنظامی اډوپه جوړولو لاس پوري کړل او د اداری ، سیاسي اونظامي مسولیتونو په منلوسره اقتصادي ، نظامي تاسیسات اونهادونه د تیر استعماری اودنوی استعماری پلو رژیمونو په مرسته سره جوړ کړل اوپه دي شان دنوی استعمار د سیاست په پلی کولو باندي لاس پورې کړل.

دیادونی بل مطلب دادي چي خارجی مرستي د داخلي بومی غل سالار بورژوازی دزیږیدو اودهغو دشتمن کیدو هسي شرایط ور په برخه کړل کوم چي هغوي د خپل امپراتوري ملګرو دپاره مخکی له هرڅه نه د طبعی زیرمو د استخراج اود راخیږولو د پا ره دعوامو په خبره دغوا دپوستکي اویا دانځر دپاڼي په اندازه سره لاره اواره کړل اویایی ورته دپښیځای ورکړل اوپه دی بنیاد امپریالیزم دخپل حاکمیت دبیارا ژوندي کولو د پاره له استعما ر څخه د نوموړی آزادشوی هیوادونو د کادرونو اود نوی نسل د روزلو پروګرام طرح او دهمدی پروګرام دتحقق دپاره یولړ سکالرشیپونه ، فیلوشیپونه او تحصیلی بورسونه څه په نظامی اویا په نوروبرخوکی چمتوکړل اودخپل خوښی اودضرورت په پام کی نیولو سره له بهره راغوښتل شوی یا راغلی زده کونکې دخپل نظامي اوملکي استادانو له خو اتر تربیي لاندی ونیول اوخپل دغه دچلول پالیسي ته

(نړیوال رنګ)ورکړل او د خپل خوښی سره یو شمیربیروکرات او غربی مشرب کادرونه کوم چی دامپریالیزم دګټی دپاره په راتلونکي کی کار وکړی تربیه اوهغوی یي بیرته خپلو هیوادونو ته ولیږل چي په نظامي،پولیسي،اداري اونوروبرخوکی کاروکړی اود همدی تربیه کړل شوي کادرونوپه مرسته سره وشي کړاي چی کاواک نوی استعماری رژیمونوپه پښوودروی اوهغه ته ټیکاوو ورکړي.کوم چي همدغه روزل شوي کدرونه دهیواد داقتصاد اودنورو چارو دغوړولو او د سمبالولو تر شعارونو لاندی دخپل خلکو دپراخي مرستی دترلاسه کولو په پایله کی دخپل امپریالیستواربابانودګټي دتامین دپاره دژوند تراخره سلګی پوري له هیڅ هڅي اواند ځخه ډډه ونکړل.

دتیراستعماردتورکارغه په دوران کی دنړی په مقیاس سره ډیر ستر ضد امپریالیستي اجتماعي انقلابونه (چین ، هند وچین )ددری لویو وچو (افریقا ، اسیا او لاتین امریکا ) په لراوبرکی نظامی کودتاګاني، نړیوال مدنی جنګ (جنوبی کوریا) کي ، بریالي نامی ناسیونالیستي اووګړنې خوځښتونه په (عراق ،هند ، اندونیزیا ، مصر ، الجزایر ، ارژانتین ، برازیل ، ګا نا اونورو هیوادونو کی ) او هم په وروستیو کي د عدم انسلاک اود ملی جنبشونو دغورځنګونو په را غوړیدو سره امپریالیزم دی ته اړکړل چی بی له ځنډه اوپه ډیرچټکی سره په فوق العاده توګه سره دنوی استعماری رژیمونوتیګه (په جنوبی افریقا ،اسرایل/فلسطین، سهیلی رودیشیا اوزمباویی ) کي کیږدی.اودبلی خواځخه دغه سود خور ناروا امپریالیستیي ځواک دتیراستعمارنوی آزادشوی رژیمونو دیوشمیر غربی پلوو بانفوذو ډلو ټپلو سره ځنی ګډ مختلف انجمنونه اوهم یولړ ګډ اقتصادی پروژی ترلاس لاندی ونیول کوم چی دهغه نهادونوپه غوړیدو سره زیات ګټی تر لاسه کړل ، تجارت رونق وموند اودسرمایه ګذاری دپاره هغو ته لاره خلاصه شو یعنی ددغو هیوادونو دآزادی په پایله کي په پراخه پیمانه سره د داخلی مزدورو دولتونوپه مرسته سره مختلط اقتصادی پروژی په کار ولویدل .

داستعمار ددوري څخه په وروسته کلونو کي افراطي ناسيوناليستي اوسوسياليستې قيامونه او خوزښتونه د نړۍ ددري لويو وچو (افريقا ، اسيا اولاتين امريکا ) په ډيرو اکثرو هيوادونو کی د نولسوواويام (۱۹۷۰) کال دامپرياليستي کړيو په ملاتړ سره ديوه لسيزی څخه په کمه موده کی کودتاګاني ترسره شوه چی دهغه په لړ کي ملي اوګړنې او سوسياليستي رژيمونه يود بل پسي په کانګو ، الجيريا ، اندونيزيا ،ارژنتاين ، برازيل ، چيلي ، او په نورو هيوادونو کي نسکور کړل شول ، نوی افراطی مستقل رژيمونه د پرتګال په مخکيني تر استعمار لاندي هيوادونو کی لکه په انګولا ، موزمبيق ،ګينی بيساو اوهمدارنګه ناسيناليستي اوملی رژيمونه لکه افغانستان ، عراق ، سوريه اولاتين امريکا کي د شوروی اتحاد په سقوط اودچين په انحراف سرمايه داري ته کمزوره اويا را وپرځيد ل. متحده ايالات بی ددی چي نظامي يا اقتصادی بر لاسي ولری چانس ورته ياری وکړ اوپه نړۍ کی ديواځنی «زبرځواک » مقام تر لاسه کړل ، متحده ايالات اوداروپا نظامی ، اقتصادی امپراتوری ته داسی موقيعت ور په ګوته شو چي دهيوادونو طبعی زيرمی څخه بهر برداری وکړی په زرونو دولتی شرکتونه ړنګ کړی ، ملی اوو ګړنی اردو له مينځه ويسی اودهغه په ځای کی نظامی مزدوراوداجيرشبکی دخپل امپرياليستی تسلط دپياوړ تيا دپاره ځای په ځای کړی (چی دهغه يوه نمونه هم زمونږ په ګرا ن هيواد افغانستان کی دی چی دسر په سترګو سره مو وليد «ژباړونکې»).

دلته يوه پوښتني را پيدا کيږي اوهغه داچي دامريکی د متحده ايالاتو دغه نوی بڼه امپرياليستي ځواک ترڅه مودي پوری به دوام وکړي ؟اويا داچي دغه راپاتي ناسيوناليستي حاکمانو به نسکور نشي ؟ کوم چی د ا دواړه مطلب په مساوی توګه سره اهميت لری، اود بلی خواڅخه لکه چی شوروي اتحاد نسکور شو ،چين اوهند وچين لکه چی سرمايه داری ته راواوړيدل اوياکه په کلی بڼی سره پانګوال شيي ، نو په دی صورت کی کوم ايديولوژی اويا کوم استدلال دتوجهی دپاره به

په لاس کی وی چی ددی وروسته له استعمارد نوی امپریالیستي ځواک د تسلط د دوام د پاره ضمانت وکړی اویا دهغه د تیکاو د پاره خد مت وکړی .؟

دواشنګټن نوی نړیوال نظم :داستعمارله سره رغونه او دنانځکولوبی

دغربی امپریالیسم بیا را ژوندي کیدل کوم چي د ملي آزادی بخښتونکو غورځنګونوځخه په (۱۹۴۵-۱۹۷۰) کلونو کی د ماتی سره مخامخ شوي وه په شمول دامپراتوري دنوي نظم له بی ساري بیارغونو اوجوړونوڅخه ،د شوروی اتحاد له نسکوریدو اودشرقی اروپا پیوستون امپریالیستي ځواک سره د سپوږمکیو په بڼه او وروسته بیا دافراطي ملی ګرایانو(انګولا ، موزمبیق اونور) اغوښتون اویا له خپل هدف څخه انحراف کول ، او دآزاد بازارغل سالاری ټول هغه پیښي دي کوم چي سپیني مانی ته بی له دي چی په جګړه لاس پوري کړاي وایي د مخکینی پیش بیني سره سم د بی رقیب یو اړخیز اودغیرمحدود نظامي قدرت ښښتن شو.

دنیولیبرال فرمان روایانو اویا د حاکمان د لوړتیا غوښتني دسیاست پربنیاد د(آزا دبازار دایدیولوژي )نظریه خپل لمن د(۱۹۸۰)او(۲۰۰۰) کلونو دواتن په موده کي په ټول افریقا ، اروپا ،لاتیني امریکا اودآسیا په ګڼو هیوادونو کي وغوړول اودهغه په ترڅ کي دچوروچپاول ، لوټماري اود خصوصي سازي دروازي یي پرخپل مخ راخلاصه کړل،اودهمدغه لوټماری اوچپاول له مخي د ثروت اود شتمني د پراخی زیرمي اوتراکم په نتیجه کی یوقطبي نظامي برلاسي قدرت سر راوچت کړل کوم چي دهغه په رڼا کي یوه افراطي میلیتاریستي ډله چی د نوی محافظه کار ایدولوګانو د ډلی په نوم سره یادیږی دسیاست ډګرته لاس رسي پیداکړل اود اسرایلی (صیهونیستي) ژور استعماری غوښتنکي ذهنیت سره په اروپا او بیا په ځانګړی بڼه په انګلستان کي د واشنګټن د ستراتیژي د تصمیمګیری دځواک اودقدرت په هرم کي دټاکلی ځای ښښتن شول .

تاریخ بیرته شاته وګرځید ،یعنی جګړه لکه د یوززرو نهسوم (۱۹۰۰)

کال داستعماری جګړوددوران په ځیر په عراق، اویوګوسلاویا کی پیل شو،دولتونه اورژیمونه یوبل پسي له مینځه لاړل اوسره دړی وړی شو اوله بلې خوا څخه لاس پوڅي رژیمونه په شمالی عراق ، کوردستان ، کوسوو ، مونتي نیګرو ، مقدونیه ( پخوانی یوګوسلاویا)کي په تحمیلی بڼې سره رامینځ ته شول،دغه ټول پورتني نظامي بري اولاسته راوړنې په ډیر چټکتیا سره بی له کوم زیات مالي لګښت امپراتوري ته لاره اواره کړ چی د طبعی اوانسانی زیرمو څخه په ګټه اخیستو سره د خپل د نوی نظم نظام موتور ته د څرخید و زمینه برابره کړي .

د (۹/۱۱ ) له پیښي څخه زیاته بهره برداری وشول ، داستعمار د پرله پسي جنګی فتوحاتو په نظرکي نیولوسره د«صلیبي نظامي پراختیا غوښتني جنګ دتروریزم پرضد) کوم چی مخکي له مخکي پلان شوې وه،اودهغه داشاعه اود تبلیغ دپاره بي ساری مالی لګښت دټولنیز رسنیو په اختیارکی اچول شوی وه خپل دغه ناروا هدف ته دمشروعیت دجامی په اغوستلو سره د تبلیغاتو لمن په پراخه اندازه سره ترسره کړل ، د چا په خبرو چی ځان ته پخپله حق ورکړل .

ددغه نوی امپریالیستي نظم واکداران په کال (۲۰۰۱)کی پرافغانستان باندي یرغل ویوړل دطالبانو اسلامي ناسیونالیستي رژیم یی نسکور کړ ( کوم چی طالبانو په هیڅ صورت سره د ۹/۱۱ په پیښه کی د خیل نه وه اویا له هغه څخه خبر نه درلودل) افغانستان د متحده ایالاتو اود ناتو داجیرو نظامیانو اواردو له خوا اشغال شو لاکن بری اویا بریالیتوب یی تر لاسه نکړل ،دامریکی یرغل اود عراق اشغال ددی موجب شو چی اسلامی ملی ګرایا نو له سره سره تجدید قوا وکړی ، غښتلی کارګری اتحاد یي ،او ضد استعماری قوتونه له سره ځان چمتو کړی او د نړی دعامه خلکو احساسات داستعمار پرضد را وپاریږي .

دعراق دعامه خلکو،پولیسو اودعراق داردو اودنظامیانو په مینځ کی دملی احساس د راژوندی کید و اود صیهونیزم ضد احسات هغه رغنده دلیلونه دی کوم چی دواشنګټن دنوی محافظه کارو ایدیولوګانو تر پښو

لاندی سره اوربل کړل او هغوی یی په ویره کی اچولی دی ، نو په همدی دلیل سره دغه ناروا ډ لی ټپلی دی پریکړی ته ورسیدچی دعراق په ټولو ولایاتو اومرکزی سیموکي استعماری شکل حکومتونه اونهادونه ا یجاد کړی اودهغه په سر کی اویا دنوموړی نهادونو مشری خپل لاس پوسي ته ورکړی ، نوپه همدی بنیاد اوس دفرقه یی ، محلی ، قبیلوی مشرانو ، خارجی قراردادیانو ، تبعیدی د با ور وړ سیاستمدارانو ، جمهورو ریسا نو ،صدراعظمانو اودنورو لاس پوسو په لټه کی ولویدلی اوغواړی چی دهغوپه تیرو عیبونه اوننګین کړنواوخیانتونو باندي دانځر پانړه (دانځر په پانړی سره شرو ځایونه ، ننګین اعمال...پوښول) کیږدی اوپه دي ډول دخپل شوم مقاصد و د پاره له هغو څخه ګټه پورته کړي.

دیادونی بل وړ مطلب دادي چی پاکستان دامپریالیزم د لاس وهني د پاره څه د نظامي له اړخه اوڅه هم درنګارنګوسیاسي مانورو له پلوه یواځني هیواد دی چی متحده ایالات په دی وتوانید چي د غټو ما لي مرستو اود رشوت په ورکولو سره هلته خپل مفسد اوبډي اخیستونکی نانځکی رژیم په واک کی ورسوي ، اوپه ښکاره بڼی سره دهغه هیواد د حاکمیت دنه په نظرکي نیولوسره دخپل بی پیلوته الوتکو سره هلته په پراخه نظامي عملیاتو لاس پوري کړل اوهم د پاکستان اردو یي د غټو کمکونو په ورکولو سره وهڅول چي دامریکي پرضد قبایلي شورشیانو سره په جګړه کي ښکیل کړی کوم چي د پاکستان لاس پوڅي نظامیا ن په قبایلی سیمو کی په پراخه نظامی عملیاتو لاس پوري کړل چي دهغه په نتیجه کي بي شمیره قبایلي اوقبیلوی خلکوله خپل ځایه څخه بی ځایه شول .

دنانځکی (ګوډاګي) رژیم ضرورت : دامریکی په ضد تبلیغات له هغه ځایه چي د متحده ایالاتو دولت پر عراق او پرافغانستان باندی یرغل اوبیایي اشغال کړل اوهم په پاکستان کی نظامی مداخله اوپه لاس وهنو لاس پوری کړ ، دخلکو کرکه راوپارول اوپه اکثرد اتفاق سره خلکو له راپیښ شوی وضع څخه خپل نارضایتي څرګند کړل اود اوردو په

مینځ کی هم خال خال ناخوښی اومقاومتونه سر راوچت کړ، نو د دغه مقاومت او یا د خلکو د نارضایتی د مینځه وړلو د پاره هغه رسمی استعمارګرو ډلی کوم چی دامریکی له خوا د خلکو دسرکوب د پاره په کار ګمارل شوی وه یا داستعماری د قدرت د پیاوړتیا د پاره په دندو بخت وه ورته پوښتنی را پیدا شو چی مونږ ځوک یو اوڅه کول غواړو: هغوی خو بیګانه دی ، دلته ولی حضور لری ، خزانه یی لوټ کړل ، اقتصاد له یوی مخی وپرځید ،جګړه اواشغال حتا لمړنی خدمات (لکه اوبه ،برق، دبدرفتو یا دفضلاتو سیتم اونور) بلکل پرخلکو ودرول اوړنګ شو په میلینونو خلک بی کوراوبی اور شول ،نوددی دپاره چی د دغه نارضایتی مخه ونیول شي رسمی استعمارګرو ډلی د خپل استعماری ذهنیت په لرلو سره په دی پریکړه ورسیدل او یا ددی ضرورت احساس ورته پیداشول چی په دی هیواد کی د خپل ګټو دخوندی ساتلو دپاره نانځکي رژیم ځای پرځای کړی .

په نظامی برخه کی دبیلینونو ډالرو په لګښت سره سره بیاهم دغه امپراتوری زورواک دعامه خلکو دپاره کوم خد ما تی نهاد یامرکزونه ونشو کړی چی ایجاد کړی . استعمارګرو حاکمانو د خپلو محلی نژدی انډیوالانواوهمکارانو سره په ګډه دیو لړسختو تخنیکی اواداری ستونزو اوپرابلمونوسره مخامخ شول اودهغوهیلی اوغوښتنی حتادیوڅه مخکینی توافقاتو سره سره بیا هم دعمل جامه پر تن ونکړل.

داستعماری بریا اوداشغال په پای کی هغو وتوانید چی په موازی بڼی سره خپل ګوډاګی اواستعماری رژیمونه ایجاد کړی،مالی چاری برابراو هغوی دامپریالیستی مقاماتو داوامرو منلوته راجلب کړي. امپریالیستی ستراتیژیستانو په دی باوروه چی هغوی دخپل تر اشغال لاندی مقاماتو سره د مذاکری دلاری څخه کولی شی چی یوه مشروع ګډه سیاسیي جبهه جوړه کړی اود میلونو ډالرو په لګښت سره هغوی تطمیع کړی اوبیا دخپل ګوډاګی رژیم د دولتی کانالونو دلاری ( په اسانی سره د بیا رغونی د ساختګی پروژی تر نامه لاندی تخصیص ورکړل شوی پیسی

لوټ اوغارت کړي ) ځخه خپل هيلی تر سره کړي او دبلی خوا ځخه دسياسی ترور دخطری د جبران دپاره کوم چی دناسيوناليستي جګړه مار مقاومت له خوا ددی ګوډاګي رژيمونو دقدرت په وخت کی په مو ازی بڼی سره که چيری تر سره شی ، هغوی راوبولی چی د(سی آی ای ) ځخه واشنګټن ته دوفاداری،فرمانبرداری تصديق ترلاسه کړی اوهغه هم په دی معنی چی دولتی شرکتونو له يوسره خصوصی کړی اودپنتاګون داجيرو نظاميانو دی هم آوامر ومنی اوهم پخپلو خلکو باندی داستعماری واکمنانو هيلی اوخواستي ومنی.

حامد کرزي په افغانستان کي ديوګوډاګی حاکم په صفت يواځی ددی دپاره وټاکل شو چي دهغه کورنی دمخدره موادو د قاچيقيانو سره لاره اودجنګ سالارانو اودهغو دمشرانوسره سازش اواړيکی درلود له خپلو خلکوځخه بيل او تجريد شوی د هغه امنيتی ګارد د متحده ايالاتو دساتونکوپواسطه سره نيول شوی اوخپل مستمری معاش له امريکي ځخه ترلاسه کوي. نورالماکی په عراق کی د لمړی وزير په صفت ددی دپاره وټاکل شو چي هغه دسپين مانی اودتورسازمان سره ډيرپخوا اړيکي درلود او سربيره پر هغه نوموړی د ملی مقاومت د مشکوکو مبارزينو په وړاندی کوم چی د اشغال کونکی متحده ايالاتو سره خپل سخته کرکه ښودل اوپراشغالګرو باندی بريدونه کول د هغو په شکنجه ورکول کی يو له ډير شديد اومتعصب سړی ځخه شميرل کيږی يا په بل عبارت هغه يو له ډيرمتعصب سړي دهغو په مقابل کی دی کوم چی خپل مخالفت اشغالګرو امريکايانو ته وښيي يعنی هغه دامريکايانو غلام حلقه بګوش يوسړی دی .

جنايت کار اومجرم آصف علی زرداری کوم چی دهغه تر شا دامريکی د متحده ايالاتو واکداران ولاړ دی په پاکستان کي د جمهور ريس په صفت وټاکل شو ،آصف علی زرداري په کراتو کراتو سره خپل روحی توافق د امريکی د نظامی قوتونو دهوايي اوخمکني عملياتو په وړاندی کوم چی دافغانستان اودپاکستان د سرحد تر مينځ ترسره کيږی ښودلي

دي ، هغه دپاکستان خزانه تش کړ او په زوره سره میلینونو سرتیری دجګړی د پاره چمتو کړل چی د هغوخلکو سره کوم چی دافغانستان د مقاومت له مبارزینوسره په سرحد اوقبایلي علاقو کی خواخوږی اوعلاقه درلود وجنګیږی اوپه دی عمل سره زرګونوخلکو یی له خپله ځایه څخه بي ځای او بی وطن کړل.

دنانځکي کړنه:په مینځ دامپریالیزم ته دغوړمالی اودګنوپرګنو جلاتوب :

ددغه دري ګوډاګي اونانځکې رژیمونو استعماری پلوواکدارانو دامپریالیزم دوحشیګری کړني پرمخ کوم چي دتراستعمار لاندی پرخلکو باندی چلوی دانځر دپانی په ایبنودو سره پټوی . نورالمالکي تر اوسه ددی پنځوکلونو په موده کی نه یواځی داچي د امریکي په واسطه سره دعراق اشغال ته په لټه کی دندی ترسره کړی یا اشغال ته مشروعیت وربخښلي بلکه دزرونوضد استعماری اودجنبش مقاومت دفعالینو دترور اودوژنی دترویج شرایط اوزمینی یی برابرکړی دی ، هغه په امتیازی بڼی سره دتیلو پرخارجی شرکتونو باندي په بیلونونو ډالرو تیل او ګاز خرڅ کړ،اوله هغه وخته چی هغه دغلواوددا ړه مارانوپه ریاست رسیدلي دي دتیلو دخرڅلاومیلینونودالراودباندنیومرستو (دامریکی دخلکو دتکس اوخیرات پیسي ) بی شماره پیسي یی په چپاول وړی دي . حامد کرزی چی د جمهوری ریاست له محوطي څخه بی دامریکایی باډی ګاردو او پرته د خپل ورور احمد ولی کرزی ( کوم چی د« سی آی ای» دسرتیفیکت په لرلوسره دیو تروریست له خوا په قتل ورسید) دوا سالار دشفری اجازی څخه دباندی وتی نشي.له هغه وخته چی دکرزي دداخلی ملاتړوحلقه ډیره تنګه شوی یا محدود شوی دي ، دهغه سترفعالیت هغه وه کوم چي دمرستهٔ(دونرانو)ورکونکواستاذوپه جلسه کی دیومطبوعاتی مصاحبی دپاره رابښکاره شواودځنو اړوندوموضوعاتو په لړ کی دمتحده ایالاتو دنظامی قوتونو په لاس کوم چی دبی پیلوتو الوتکو دبمب اچولو له امله د ډیروغیر نظامیانودتلفاتو اود مړنی سبب کیږی خپل خواشینی ښکاره اوزیاته کړه چی داډول خودغرضه عملیاتونو دافغانستان د خلکو

قهر اوغضب را پارولي دي . دبلی خوا څخه دکرزی تر سترګو لاندی په نامه سره په ټولو نظامی اوامنیتی ادارو اوموسساتو کی طالبان ، افراطي ناسونیالیستوګروپونورانتوتی دی کوم چی دمتحده ایالاتودنظامی کړیوسره په ارتباط کی دی اوبیا په ځانګړي بڼه سره هغه د مخدره موادوقاچاقبروچی د(سی آی ای) سره په نژدی تماس کی د ي.

په پاکستان کي ځای پرځای شوي نانځکی آصف علي زرداري سره دځنو نظامی اواطلاعاتي اداروااوآژانسونود مقاومت او(۸۵) په سلو کي دخلکوضدیت دامریکی دمتحده ایالاتوپه وړاندی سره سره خپل هیوادیی په پراخه اولویه پیماني دنظامی جرایمو په منلو سره کوم چی داسلامی ټولنو په مقابل کی ترسره کړاودهغه په پایلي کی دهیواد په شمال شرقی کی د(۴) میلیونوخلکودمهاجرت سبب شو ورتیل ووهل .اودسپیني ماڼی دواکدارانوپه دستورسره دطالبانودیټ ځایونودمینځ وړلواودهغو دنظامی مسلحو قوتونود پلویانو په مقابل کی جګړی ته شدت ورکړ ، هغه یعنی زرداری پخپل دی عمل سره خپل باور د یو ملی سیاستمدار په صفت دلاسه ورکړ ، اودوفادارو ناسیونالیستانو دقهر د راپارولو سبب شو کوم چی په(مخفی؛)ډول امریکایی نظامی قوتونو ته اجازه ورکړ چي خپل نظامی عملیاتو ته د محلی اسلامی جنګیالیو په وړاندی زیات کړي اوعامه خلک دپی پیلوتو الوتکو دبمب اچولوپه اثرپه کلو ،بانډو،ښارونو کی له مینځه ویسي او په دی ډول د پاکستان حاکمیت ته سترتاوان ورسول . اویوه اجماع یی په مخاطره کی واچول ،هو کي نانځکو او استعمار پلوه ګډاګیانودامریکی دتبلیغاتو ماشین اودهغو دمقاصدو دسر ته رسولو دپاره کوم دغیر نظامی خلکو دوژلو اودخلکو په مینځ کی بی دډار پیداکولو بل شی نه دی خپل دغوړماليو اصلی انځورونه وښودل دامریکایی پروپاګندیولمړنی اقدام دنانځکود(وابستګي ) یا(په واک کی ) دشراکت انځور دمینځ وړلو طرح وړاندی کړ کوم چی په دی ډول سره وشی کړی چی د دغه ګوډاګي حاکمانو رول اوحاکمیت ته اعتبار ورکړی اوهغوی آزاد اومستقل اعلام کړي او خپل امپریالیستي عیب

اونقص په دی ډول سره اصلاح کړي. خصوصاً په دی لاندی مواردو کی کوم چی خپل اندیښنی کله ناکله په ظاهری بڼی سره ښکاره کوي : دبشر دحقوق له نقض څخه مخنیوی ،داقتصادله تخریب څخه ډډه کول ، اودباندنیوکمکونولهحیف ومیل څخه ځان ساتنه له فسادسره مبارزه اویا له هغه څخه جلوګیری اوداساسی خدما تودناسالم چلندڅخه ځان ژغورل هغه څه دی چی د امپریالیستي قوتونو سطحی او ظاهری شعارونه دی یا په اصطلاح سره دخلکو په سترګو کی خاوری اچول دی چی هیڅکله دعمل جامه نه اغوندی .

همغسی چی دهیواد په دننه کی ملی اووګړنی مقاومت وده کوی په همغه شان سره امپریالیستی اشغالګرو هیوادونودجنګ جګړی دلسیزی داوږدیدواو ددوام دراتیټیدو غږ راباسي ،په همدی وخت کی لاس پوڅی یا نانځکی دیولړ فشارونو داحساس له مخي په رمزی بڼی سره دآزادی خواهی (استقلال )چیغي وهي اوهغوی دخپل اشغالګرواربابانو سره په خبرواترو پیل کوي اوزیارباسی چی داشغالګروپه وړاندی دپرګنو دقهر اوغضب سره کوم چی داشغال اوداشغالګرو له ناوړی چلند څخه لیدلی دي چی ټول غیرانسانی جرم اوجنایت دی هم اهنګي نغمی پورته کړی اوپه وطنی اصطلاح (له دیګي نه چمچه ګرمه وی) سره دغمشریکی غږ پورته کړی، استعماری واکدارانو له مخکی تش شوی خزانی څخه هر هفته کم ترکمه ترد یوبیلیون ډالرو په راایستلو پیل کوي او په عین زمان کی د خپلو اشغالګرو سربازانو دراایستلو اویا له اشغال شوی هیواد څخه د هغو د وتلو سیګنالونه پورته کوی،کوم چی داټول نښی اونښانی اوبیا په ځانګړی بڼه سره داولسونو دآزادی خواهي دچیغي په وده سره نانځکي ته ډار راپیدا کیږی اوهغوی یعنی نا نځکی د خپل مقام اودخپل ژوند دلاسه ورکولو له امله په ډیر ژور تشوش او خپګان کی سره ولویږی .

نانځکی اوګوډاګي حاکمانو دهغه امکاناتو په لټه کي ولویږي کوم چي د مقاومت له ګروپونو سره معامله وکړی ، نو په دی وجهه

دغیرنظامی خلکو د وژنی له امله کوم چی داشغالگرو له خوا ترسره کیږی نو دخلکو د قهر اود غضب غږ له خپل حنجری څخه راباسي اوخپل ځان دمقاومت د ډلی په مخ وطن پرست اوپرخپل خلکومین ښيي (لکه چی په کرزی گوډاگی کی اوس په رښوسترگوگورو:ژباړونکی).
او هم داشغالگرود بی خطره وتلو دوعگانی د اخری مرستي دلاس ته راوړلو د پاره دخدای له درباره کوي (چی خدایه خیر راپیښ کړی ).
نو په دی بنیاد دآصف علی زرداری د پاره ښه موقع اوس دادي چي دامریکی دنظامیانو پروروستي عملیاتوباندی کوم چی د هغه په ترخ کی بن لادن له مینځه لاړ نیوکی وکړي . د نورالماکي دپاره ښه فرصت دادی چي په ډیر«سرلوړي » سره پرامریکي باندی غږ وکړی چی له عراقه خپل سرتیري اوباسي . دکرزی دپاره اوس هغه موقع ور په برخه شوي چي د خپل هیواد امنیتي چاري چی مخکی د خارجي قوتونو په لاس کی وه په اصطلاح سره پخپل ملی اردو تامین کړی اودی پیښی ته ښه راغلاست ووایی لکه چی په دي وروستیو ورځوکی دبامیان دولایت امنیت افغانی ملی اردوته وسپارل شوکوم چی لا مخکی په نوموړی ولایت کی دمقاومت هیڅ یوډله یا گروپ حضور نه درلود .
ایا دا پخپله دنانځکو یو ډول « شورش »دخپل استعماری بادارانو په مقابل کی نه دي؟واشنگتن په ظاهری بڼی سره پاکستان ته دجزا ورکولو په نیت هغه (۸۰۰) میلونه ډالرمرسته چی دپاکستان داردواود جاسوسی فعالیتونواود اکنتوری د پاره بیله کړی وه کوم چی د اسلامی مقاومت پرضد په کار واچوي ځنډولی یا بند کړی چی د پاکستان دواکدارانو د تشویش سبب شوی کوم چي دمیدیا دلاری ټول نړیوال پری خبر دي .
طالبانوکوم چي دکرزي وروراودهغه ډیرلوړ پوړي سیاسي صلاح کار جا ن محمد خان تروورکړل ، په کوچو (butter) کي ددي رژیم فعالیت ته یوسگنال دي چی گوډاگي حاکمانو کله ناکله په لوړ انگازه لرونکی عاطفی احساس سره دطالبانو د « نا رسمي دولت » غږکوم چی د ملت اود نوی نظامی مخکی له مخکی یرغل په واسطه سره

پوښل شوي نه وی له خولې نه راباسي .
د ګوډاګیو یا دنانځکویاغې کید ل او د استعماري اربابانو تر نفوذ لاندی نه پریوتل اونه هم داستعمار پرضد د پراخو پرګنو راجذ بید ل دا ټول د متحده ایالاتو د پراخوهڅو اواند نه بریالیتوب د استعمارد بیا نه راژوندی کیدو سګنالونه دي. چي د اپخپله د نوي محفظه کارانواود نوي لیبرالیستانوددار دطلسم پای دي کوم چي هغوي په ډیر شوق اورغبت سره په دي باور وه چي د متحده ایالاتو نظامي ځواک ددي پوره توان او قدرت لري چي پراسلامي نړۍ باندي د خپل مخکیني روزل شوو ګوډاګیانو په مرسته سره یرغل وکړي ،هیوادونه اشغال کړي اوهلته تر اشغال لاندي سیمو کي پرخلکو باندي خپل ګوډاګي حاکم کړي،کوم چي دهغه یوه ژوندي مثال هم داسرایل اوسني استعماری رژیم دي چی د اسلامي اوسیکولرله هیوادونوڅخه بیل په مستقل بڼه سره دبحر دساحلی وچي په یونری ټرانګه کي پروت دي،اوداپخپله دامریکي دمتحده ایالاتو دپلویانو په هڅه اواند سره کیدای شي چی لکه د اسرایلې استعماري رژیم په څیر دجنګ دلاري څخه په رانیول شوي سیمو یاهیوادونو کي بی له دي چي دغه استعماري دولتونه د ماتي یا د سقوط سره یي مخه شي خپل ګوډاګي هلته په واک کي کیښینوي هلته به د خپل ګوډاګي رژیمونو د پاره دپرواز اود نظامي قوتونودبیا رغوني اسانتیاوی برابر کړی ، بیرقونه را ښکته کړی اود کورنۍ جګړي د پیل اوددوام دپاره لاره اواره کړی اوایا په دی بنیاد سره ددي امکان به تر لاسه شي چی ټولنیز داخلي انقلابونه ددی استعماری ډولو رژیمونو ځای ونیسي ؟ دګوډاګیو اودهغودبادارانو ټغررا ټوله کړي؟ مونږ په امریکې کي ژوند کوو، په ډیر ژور بحراني زمان کي ، کوم چي راسته افراطي ډلي ټپلي دامریکي په ټولو لوړوموسساتو اونهادونو کی خپل نفوذ ټینګه کړي اود پوره واک اواختیار خاوندان دي اما په دی هیله چي دهغو دغه واک اواختیار تلپاتي نه وي ، کو چی دباندی استعماری جګړو په رامینځه ته کیدو سره نور داخلي جګو نه خپل لمن ونه غوړوی .

ددی مقالي دليکونکي لنډ پيژند ګلوي : پروفيسر جيمس پيتراس دټولنيز پيژندلو دنګهامتوم يومتقاعد پروفيسور دي کوم چي دهغه قيموميت د سانت ماري ،هاليفکس ،نوباسکوټیا اود کاندا له پوهنتونو سره دي اوهغه ډيري ليکني دلاتيني امريکا اودمينځني ختيځ پر موضوعاتو باندی کړی دی هغه خپل (B A) له بوستان پوهنتون څخه او خپل د (ph.D ) ديپلوم د کلوفورنيا له پوهنتون څخه تر لاسه کړی دي .

په درناوی